


# تیریدم واروش د یځنووش د– وا لیصحت ونوجنا د ؟یکیرا ځنم رت هعماج

يعوضوم هنړیڅ )یدتسا سیک(یک یلاوخارپ هپ لیصحت د ونوجنا د نوڅاپ یعماج د

SAMUEL HALL.

giz Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH

سمیول حال چی د سیمیزو څیړنو او تحقیقاتو په چمتو کولو کی او همداشان دولتی او خصوصی اداروته چی په اوسنی او پخوانیو جنګ ځپلو سیمو کی پانګونه کوی د مناسبو څیړنو, شننو او د استراتیژیکو مشورو په ورکولو یو پرمختللی بنسټ دی.سمول دفتر له 2009 کال څخه ډیری سیمی لکه اسیا, افریقا او منځنی ختیځ شامل دی تر پوشش لاندی نیولی او د خپلو عینی موندنو , څیړنو او ګډ کار بشپړ راپور پالیسی جوړونکو او هغه کسانو ته چی پریکړی کوی شریک کړی. موږ د ښار او ارزیابی د څیړلو په برخه کی او همدا شان استراتیژیکه ارزیابی او د هغی اغیزه, اقتصاد, کډوالی یا مهاجرت, حکومت او د قانون حکمونه, لوړو زدکړ او خوندیتوب کی تخصص لرو..زموږ دفتر په نیروبی, اردن او کابل کی شتون لری او کولی شی زموږ سره په اړیکه کي شی:info@samuelhall.org

زموږله وبسایت څخه لیدنه وکړی:www.samuelhall.org

هغدد هنورپخ G12-BEPI تروصه هنودنا وا ینننش ,ینړیڅ یموک یچ یک هنورپخ ید هپ ,یږیک یدناړو وا وتمچ هخڅ اوخل
د یسیډ G12-BEPI یوکډ بوتیزاتسا.

یش یدناړو وا وتمچ هلاوح هپ سردا ایکیلذخا یدنلا د دیاب هنورپخ هغد:

*Samuel Hall 2014, “School Management Shuras: A bridge between girls’ education and the communities? – Case Study on Community Mobilization for the promotion of girls’ education”.*

یوکرو مه هزاجا ولورپخ وخرب ونیځ د شرازگ ید هرابل یلځایب د وا یوش لوڅهر ریډ هخڅ ینورپخ ید یلپخ هل لاح لویمس.

وف د شرازگ د هټ سردا یدنلا وا وتمچ تامولعم رپشبډ وا کیلنتبنوغ لپخ یچ ووک هلیه هراپل ولورپخ وا وپاچ ایډ وا یپاکوت
یړیلوار: development@samuelhall.org

# 1. معرفی

"موږ باید په توله نړی کی سفر و کړو امکان شته چی بله لاره هم وجود ولری".

هاینریش فون کلیست، د نانځکو په یو تئاتر کی

د تیرو لسیزو په موده کی د جنسیتی نابرابری او د ښوونی او روزنی رواجول په افغانستان کی د انسان دوستانه مرستو او پراخوالی د کلیدی اصولو څخه وو. او تر ډیره حده دغو هڅو ته پاملره د برياوو درلودونکی وه، او د افغانستان د دولت او نړیوالی ټولنی نه په مننی سره چی ددی لاره یی همواره کړه تر څو په میلونونو انجونی وکولای شی چی په مکتلونو کی داخله واخلی. څرنګه چی د توکیو د کنفرانس ګډون کونکو لخوا ویل شوی دی چی په ښار ی او ګلیوالو سیمو کی د کوچنیانو لاسرسی ښوونی او روزنی ته تراوسه لا یو ستر مشکل دی، او باید چی موږ تر بل هروخت همدا اوس ښوونی او روزنی ته په خاصه توګه د انجونو د زدکړو لپاره اهمیت ورکړو. ددی سربیره، په خاصه توګه د فرهنګی کنفرانسونو او اقتصادی او اجتماعی محدودیتونو په واسطه دا ډیره سخته ده چی د ابتدایی مکتبونو ګډونکونکی پیدا کړو. ۴۸،۳ سلنه هغه خلک دی چی د ابتدایه مکتب د عمر درلودونکی دی، او ۲۳،۲ سلنه هغه خلک دی چی د ابدتایی د مکتب عمر لری. د سمیولحال لخوا مخکنیو ترسره شویو څیړنو ښوولی ده چی د کمیت او د بنسټیزو کارو ته د لاسرسی او د وړاندی شوی ښوونیز کیفیت یو غټ مشکل دی. (په مکتب کی د استادانو نشتوالی، او د ښوونی او روزنی کښته کیفیت) په دی وروستیو کی د یونیسف اجرایه مدیر د ۲۰۱۳ اکتوبر کی د انجونو د مکتبونو څخه لیدنه وکړه او ویی ویل چی د پاملرنی وړ لاسته راوړنو سربیره اوس هم د افعانو انجونو د زدکړو راتلونکی لا نامعلومه پاته ده.

په تیرو څو کلونو کی د امنیتی اوصاع د خرابیده او د نړیوالی ټولنی توجه لنډ مهاله پرمختیایی اهدافو ته ددی لامل شوی دی چی دغه لاسته راوړنی له خطر سره مخ شی، ځکه چی دا مهمه ده چی په عین وخت کی چی اوږدمهاله اهدافو ته پرمختګ ورکوو هغوی هم پر مخ یوسو. پدی اړه یو ستراتیژیک درس چی موږ یی د تیرو لسیزو یا دانجونو لپاره زدکړی پرلپسی پروګرامونو څخه لاسته راوړو هغه دادی چی: ؛ چی د جنسیتی رولونو تعریف د افغانستان په ټولنه او فرهنګ کی مرکزی وو او هرډول پلان شوی تغیر یا درک سوی مشوری ته اړتیا لری، نه یوازی دا چی د کورنی د غړو سره، بلکه د یوی پراخی ټولنی سره، سیمییزی ټولنی. نارینه او ښځینه تر ډیره حده یو شان اخلاق او فرهنګی ارزښتونه لری لکه د هغوی درک د جنسیتی رولونو څخه او هغوی په سیمیزه ټولنه کی ددا شان شیانود رواجولو په لټه کی دی.

دا غشتلی تاکید په ټولنیز پاځون او برخه اخیستنه کی لړ لړ د زدکړو په اړه د هر بنیاد اصل په افغانستان کی ټاکل شوی دی. په ټولنیزه توګه د ټولنو پاځون پدی توګه تعریف شوی دی: د ظرفیت جوړونی پروسه چی د هغی په واسطه خلک، ګروپونه، او د دفترونو پروګرامونه پر مخ بیول شوی او فعالیتونه یی د پایښت او ګډون کولو په اساس څیړی تر څو خپله سلامتیا او د نورو اړتیاوو ته ښه والی ورپه برخه کړی، کولای شی چی دا کار یوازی او یا هم د نورو په همکاری سره ترسره کړی.

دا یو اساسی عنصر دی چی خلک، کورنی، او ټولنو ته یی قوت ورپه برخه کړی دی او دا هغوی ته دا موکه ورپه برخه کوی چی ترڅو پر تصمیمونو او هغه منابعو چی دوی تر تاثیر لاندی راوړی خپل تاثیرات او کنترول ولری. ټولنی د له ګټه ورکونکو څخه بیا د مرستو او خدمتونو د ترلاسو کونکو پوری د هغوی د پرمختګ اصلی عوامل وو، او د هغوی د اولویتونو په اړه تصامیم نیسی چی د ټولنیز مالکیت د پرمختک لامل شوی دی او پایښت زیاتوی.

د ټولنی د پاځون سره د پرمختیا د عواملو رول د کلتوری حالت څخه چی **خیر** یا **مشاور** دی وتلی او د **تسهیل کونکی** شکل ته اوښتی دی چی دا په افغانستان کی د ابتدایی زدکړو د پروګرامونو **(BEPA)**څخه یو پروګرام شمیرل کیږی، چی د GIZ دفتر لخوا تطبیق کیږی.

[1]د آمار مرکزی دفتر (۲۰۱۴) د ریسک څیړنه او ملی توان رسونه ۲۰۱۲-۲۰۱۱، کابل، افغانستان، ص ۶۴.
DMoYA[1]/ UNFPA/UNICEF /سمیول حال، د افغان ځوانانو مشارکتی څیړنه ، ۲۰۱۳.
[1] یوه کتنه و یونیسف ته په ۲۰۱۳ د اکتوبر وکړی: http://www.unicef.org/infobycountry/afghanistan_70759.html

[1] نړیوال بانک ۲۰۰۵، ملی بیارغونی او د فقر کموالی د ښځو آغیزه د افغانستان په راتلونکی باندی افغانستان ۲۰۰۵، ص ۱۲۶.

[1] هوارد ګربمن، ال.، و اسنترو، جی. ۲۰۰۳. څنګه جامعه د اجتماعی سلامتیا او اجتماعی تغییرلپاره پاځون ته جوړه کړو. بالتیمور، ام دی: د اړیکو اشتراک په نظافت او تداوی کي.

ښووی او روزنی ته د انجونو د لاسرسی د زیاتوالی لپاره د GIZدفتر لخواد PEPAپروګرام د لوړو زدکړو د وزارت په همکاری ترسره او ده ټولنیز دفترونه پر مخ وړی:

- په متوسطه مکتلونو کی د انجونو د ګډون غښتلی کول.
- د شرایطو وړ استادانو یا ښځینه معلمانو د تعداد لوړول.

د عمل په ډګر کی، دغه دوه هدفونو ته لاسرسی د څلورو لاسته راوړنو او د سره پیبلی توب په نتیجه کی چی ګدون او تولنیز پاڅون ته سخته اړتیا لری د امکان وړ دی.

1. د انجونو هڅول د متوسطه مکتب وروسته ټولګیو به (۱۲-۱۰) و په فتی او مهارتی کالجونو کی ګډون (TTC) او یا میاشتنیو فتی او مهارتی کالجونو کی ګډون د ۱۳ او ۱۴ ټولګی د بریالیتوب وروسته.
2. د انجونو د ښوونی او روزنی پرمختګ د دولتی مکتبونو او مکتبونو او اسلامی ناستیتیوتونو (مدرسی).
3. د ښځینه استادانو شمیر پورته بیولو او انجونو ته د متوسطه مکتبونو د ختمولو په اړه ټولنیز پاڅون.
4. د معلمینو د روزنی په اداره کی د جندر د یو واحد له لاری د معلمینو د روزنی د ظرفیت جوړونه.

په دریمه لاسته راوړنه کی، BEPA داسی یو آزمایښی پروګرام د ټولنیزو پاڅونونو له لاری د مکتبونو د پیاوړتیا شوراګانو د مروجولو لپاره، د پوهنی وزارت د ملی سیاست سره په همغږی، جوړ کړی دی. په حقیقت کی د مکتبونو شورا ګانی د (د پالیسی لاربنود د ښوونی او روزنی د زدکړی لپاره د ټولنی پر اساس ۲۰۱۲ م کال ) کی را غوښتل شوی وی. زمونږ هدف د ټولنی د خلکو، کورنیو، زدکونکو، او د سیمی د نورو خلکو د ګډون زیاتوالی په مکتبونو کی دی تر څو وکولای شو ددی لارو څخه د انجونو د تصلیل په مخ کی موجوده موانع د انجونو د زدکړو خندونه په متوسطه مکتبونو کی لدی لاری په ګوته کړو. په الغانستان کی د خلکو پاڅون دیر ارزښتناک دی او دا چی د تصمیمی نیونی قدرت سیمیزو او غیر رسمی مقاماتو ته ورکړل شوی دی چی دوی ددی تصمیم ونیسی چی څه شی د ټولنیزو او فرهنګی اړخونو له پلوه د منلو وړ دی اوکوم رول چی دا انستیتوتونه د لاسته راوړنو دایمی پاتی کیدو تضمین لوبولای شی.

د ۲۰۱۴ د اګست د روزنی لمړنی پروګرام پای ته ورسیده. اوسنی څیړنه د دغه آزمایښت د درک، د هغه پاتی کیدل، او د هغه د تکرار د قابلیت په اړه وړاندی شوی وو. لدی امله په سیاسی او امنیتی اوضاع کی د تغیر سربیره، او قوی زیاتوالی په ټولنیزو، سیاسی، او ټولنیزه بی ثباتی کی تشویقوی. دا د لاسونی پوره والی به په کلیو کی راتلونکی تر تاثیر راندی راوړی، د قوی ټکو، کمزورو ټکو، او په ټولنه کی د لاسوهنو د پایلو احساسد انجونو پر زدکړو او ښوونه او روزنه ډیر مهم دی.

اوسنی څیړنه دری اصلی هدفونو ته د ځواب وینی لپاره طرح او ډیزاین شوی وه:

1. **لمړی د ستراتیژیک لیدلوری څخه:**

ددی لپاره ده چی، د BEPAد پروګرام چی د GIZ ددفتر لخوا پر مخ بیول کیده اړیکی او ستراتیژیک انتخاب و پلټی او له هغه څخه هدف د ثانوی او متوسطه زدکړو لوړولو څخه ګټه پورته کړی.

**۲. دوهم، د څیړنی له لیدلوری څخه:**

ددی لپاره ده چی، د عملی کیدو کیفیت، تاثیر، پاتی کیدل، او د BEPA د پروګرام د څلورمی عضوی پلټنه وشی او د منلو وړد تسلسل پیدا کولو تغیرات په BEPA کی وټاکی.

**۳. دریم، د پروګرام له لیدلوری څخه:**

ددی لپاره ده چی، د GIZ دفتر ته د مشورو او عملی وړاندیزونو د ښه والی او پراختیا د پروګرام څخه هغوی ته وړاندی کړی.

د سرچینی څخه دګتو اخیستلو شرایط GIZ ص۴

په پایله کې، د GIZ د دفتر د BEPAد پروګرام هدف دا دی چې دا وڅیړي چې آیا د ټولنی ګډون او د ګډون کولو کړنلارو پر ذهنونو، فکرونو او په ټولنه کې پر مروجو تګلارو په ټولیزه توګه پر ښځو، نارینه ګانو، کوچنیانو او ځوانانو کوم مثبت تاثیر کړی دی او که نه. څنګه چې د نړیوال بانک د ۲۰۰۵ په راپور کې راغلي چې دا په ګوته شوی ده چې: «جنسیتی تفاوتونه په مختلفو څنګو لکه روعتیا، ښوونه او روزنه، منابعو ته لاسرسی او کنترول، اقتصادی آسانتیاوی او سیاسی غږ کې لیدل شوی دی په داسی حال کې چې ښځو او انجونو په مستقیمه توګه د دی نابرابریو څخه متضرری شوی دی او د هغوی منفی اثر په ټوله ټولنه کې احساس شوی دی.»د انجونو د زدکړو په اړه د یو ګډون کونکی تګلارې رواجول، د ښوونځیو د مدیریت شورا ګانی چې د GIZ د دفتر لخوا څخه حمایه شوی دی امکان لری چې د رینښتینی رفتار لپاره د بنسټ ډېره واوسی البته د نظر وړ ټولنو د اقتصادی او اجتماعی اوږدمهاله پراخوالی د شروع په لمړی سر کې.

**د ۲۰۱۴ د جنسیت د راپور څخه د نړیوال بانک او سمیول حال کلیدی لاسته راوړنې:**

په ۲۰۱۴ کال کې د سمیول حال او نړیوال بانک د ورکړل شوی راپور له مخې د انجونو د زدکړو د پراخوالي په لاره کې چې کوم مشکلات موجود دی په لاندی ډول دی:

- **د ښوونې او روزنې کمزورې بنسټ** اکثره ښوونځیونه تراوسه پورې د احاطې دیوالونه نه لرې، د درسی ټولګیو او کتابونو د کمبود سره مخ دی، صحی د څښلو اوبو ته لاسرسی نه لری، او د کمزورو صحی خدمتونو څخه برخمند دی.
- **تر اوسه لا ښوونځی د حملو هدف دی** که څه هم چې پر ښوونځیو بریدونه په دی آخری میاشتو کې کم شوی دی، لا ددی تر څنګ په تیرو اووه کلونو کې د ډیرو جنایتونو شاهد یو.
- **د ښځینه د شرایطو وړ استادانو کمښت** د ښځینه استادانو تعداد موجودو ښوونځیو ته کفایت نه کوی.
- **د ښځینه استادانو د ملاتړ نشتوالی** هغه ښځینه استادانی چې کم عمره ماشومان لری وړکتونونو او د ساتنی آسانتیاوو ته لاسرسی نه لری، او د ترسانپورت ضعیفه ځانګه د ښځینه استادانو لپاره مشکل دی ځوک چې غواړی د کور څخه لری ښوونځیوته ولاړی شی.
- **د ښځو زدکړو ته د ارزښت کمښت** تر اوسه ډېری کورنی د ابتدایی ښوونځیوپرته د زدکړو لپاره د خپلو انجونو د استولو په ارزښت ندی خبر. زمونږ هدف تر ډیره بریده د پوهنتون په سطحه زدکړی دی.

| د زدکونکو سلنه | نړیوال بانک ۲۰۰۵ | د نړیوال بانک راپور ۲۰۱۲ | منبع ۲۰۱۲ |
|---|---|---|---|
| په ابتدایه ښوونځیوکی د انجونو سلنه | ۳۴٪ د تطبیق وړ ندی | ٪ ۴۰<br>۸۳۳/۱۴۱/۲ | د لوړو زدکړو وزارت د ۱۳۹۰ کال د معلوماتو بانک (د ټولګی د زدکونکو د جنسیت سطح) |
| په متوسطه ښوونځیوکی د انجونو سلنه | | ۳۵٪<br>۳۲۰/۵۱۳ | د لوړو زدکړو وزارت د ۱۳۹۰ کال د معلوماتو بانک (د ټولګی د زدکونکو د جنسیت سطح) |
| په لیسه ښوونځیوکی د انجونو سلنه | | ۳۴٪<br>۶۴۸/۲۴۶ | د لوړو زدکړو وزارت د ۱۳۹۰ کال د معلوماتو بانک (د ټولګی د زدکونکو د جنسیت سطح) |
| د ښځینه زدکړیالانو سلنه په پوهنتون کی | ۱۹٪<br>۸۹۰/۵ | ۱۹٪<br>۸۱۱/۱۴ | د آمارو مرکزی دفتر«د افغانستان د آمارو کتابچه ۲۰۱۲-۲۰۱۱» |
| د ښځینه استادانو سلنه | ۲۸٪<br>۶۰۰/۱۹ | ۳۱٪<br>۶۳۶/۵۳ | د آمارو مرکزی دفتر«د افغانستان د آمارو کتابچه ۲۰۱۲-۲۰۱۱» |

منبع: نړیوال بانک (۲۰۱۴۹)، «د ښځو ونډه د افغانستان په راتلونکی کی په متداومه مشکلاتو او لاسته راوړنو برخه اخیستنه» نړیوال بانک/ سمیول حال، کابل، ۲۰۱۴.

نړیوال بانک ۲۰۰۵، ملی بیارغونی او د فقر کموالی د ښځو آغیزه د افغانستان په راتلونکی باندی.